**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د ښځو لاسته راوړنې که د دوی ګمراه کول او  ورباندې سوداګري کول؟**



**(ژباړه)**

په ۲۰۱۷ م کال کې د سعودي ښځو پنځه لاسته راوړنې چې د ډېريو ورځپاڼو او سايټونو د غوره او په زړه پورې سرمقالو په توګه وټاکل شوې، تر څو خپل پیروان د هغه هېواد د ښځو د حق پر وړاندې د سعودي پادشاهانو له لطف څخه خبر کړي:

لومړۍ لاسته راوړنه، د موټر چلونې جواز ورکول: د ۲۰۱۷م په سپتمبر کې ملک سلمان بن عبدالعزيز د سلطنتي حکم په صادرولو سره ښځو ته د موټر چلونې اجازه ورکړه.

دويمه لاسته راوړنه، د ولايت (شرعي قيموميت) پای ته رسېدل: د ۲۰۱۷م په مې کې ملک سلمان په خپله پرېکړه کې داسې فرمان ورکړ: «اړتيا ده د ځانګړو کتل شو ښځو اجراات او اړوند اداري چې غواړي ښځې پکې کار وکړي، په وړاندې شوو ټولو لومړنيو خدماتو کې، چې د هغوی د دندې د ترسره کول لپاره د ولي (شرعي قيم) اجازه پکې شرط وه، د جوړ شوي قانون په اساس لرې کېږي او دغه اجراات بايد د فرمان د صدور له تاريخ وروسته په درې مياشتو کې پوره شي.»

دريمه لاسته راوړنه: په لوبو او د لوبو په ډګرونو کې د ښځو ګډون: رياض کې د اکتوبر په مياشت، د ټولو لوبو د ادارې رييس ترکي آل الشيخ اعلان کړه چې: «په رياض او جده کې د لوبو د درې سټډيومونو د چمتو کولو کار پيل شوی او د ۲۰۱۸م تر پيل پورې به په ځانګړو ملاحظاتو سره د کورنيو د ورتلو لپاره چمتو شي.»

شلورمه لاسته راوړنه، د رهبرۍ په سترو پستونو کې د ښځو ټاکل: د ۲۰۱۷م په مارچ کې د سعودي د شورا مجلس په ملي دفاع وزارت کې د ملاتړو خدمتونو د تر سره کولو لپاره د ښځو په ګومارلو او ناستو نظامیانو ته د کورونو په ورکولو پرېکړه وکړه. دغه پرېکړه د هغې غوښتنې پایله وه چې د امنیت شورا د کمېټې له خوا وړاندې شوې وه. د سعودي عربستان د لوړپوړو چارواکو د څرګندونو پر بنسټ د ۲۰۱۷م په سپتمر کې د لومړي ځل لپاره یو ښځه د دولت په لوړ پوست باندې په دنده وګومارل شوه. فهد بن محمد الجبیر د ختیځو سیمو مسول او ایمان بنت عبدالله الغمادي د الخبر ولایت د ښاروال د مرستیالې په توګه وټاکل شوه او د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست او د ښځو برخې خدمتونه یې د دې پر غاړه کړل. ایمان لومړۍ سعودي ښځه ده چې د ښاروالۍ په چارو کې په دنده وګومارل شوه.

پنځمه لاسته روړنه، له ښځو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی: د ۲۰۱۷م په سپټمبر کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ډاکتر عواد بن صالح العواد داسې دستورالعمل صادر کړ چې پر بنسټ به یې هر ډول سریالونو چې پکې ددې هېواد یا نورو ښځو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې ښودنه کېږي، بندیز ولګاوه. یاد وزارت چې په خپل ټویټر پاڼه کې اعلامیه خپره کړه، په دې یې ټینګار کړی و چې «هر چا چې د دې دستورالعمل خلاف عمل ترسره کړ، بې ځوابه به یې پرېنږدو.»

خو هغه لاسته راوړنې چې ادعا یې کېږي، د سعودي ښځو له ګمراه کولو او د دین د احکامو له لرې کولو څخه یې پرته بل څه نه دي. هغوی غواړي چې ښځې ګومان وکړي چې دغه بدلونونه هغه لاسته راوړنې دي چې سیکولریزم موږ ته راکړې؛ سیکولریزم چې ښځو ته له ظلم وحشت او تېري پرته بل څه نه دي راوړي؛ ځکه د باطل پایله هم باطله وي. د ۱۴سوه کاله اسلامي حاکمیت په اوږدو کې د لور، مور او مېرمنې په توګه له غوره حقونو او باعزته مقام څخه برخمنې وې او د داسې نارینه وو په ملاتړ چې په ژوند کې یې ملګرتیا او مهرباني ورکړې وه، ژوند کاوه.

ډېر وخت وشو چې د غرب د زهرجنو غېشو موخه مسلمانې ښځې دي؛ ځکه غرب پوهېږي چې ښځې د خپلو ماشومانو تربیه کوونکې دي او هغوی د کورنیو د ملا تیر جوړوي. دښمنان هڅه کوي چې هغوی د خپل دین د احکامو پر وړاندې شکمنې کړي، د اسلام انصاف او عدالت نه ناهیلې شي. اوس د سعودي د ښځو وار رارسېدلی چې د اسلام پر وړاندې بغاوت وکړي او د دروغو، تهمت او مغالطې له لارې ورته دېکته شي، هغوی چې د ظلم او بې عدالتۍ پر وړاندې پورته شوې دي اتلانې دي، همداراز دا پنځه لاسته راوړنې چې رسنیو یې په بیان کې ستونی وشکول، دې ته یې اشاره وکړه چې دا پنځه لاسته راوړنې د شاته پاتې کېدو له امله لاسته راغلې. دغه ناځوانه او خبیثه اشاره چې د اسلامي احکامو د تورنولو لپاره ده، په داسې حال کې چې اسلام له داسې واقعیت څخه بېرازه دی.

د بشر د حقونو سازمان د تېر کال په جولای کې «په سعودي کې د سرې د ولایت (قیمومیت) قانون؛ ښځې د هغو کسانو په څېر دي چې په صندوق کې ژوند کوي» تر عنوان لاندې راپور خپور کړ او په هغه کې ګواکې هغه چې محدودیتونه چې پر سعودي ښځو تحمیلېدل، محکوم کړل. یاد سازمان هغه څه ته اشاره کوله، چې ریاض لس کاله مخکې پر ښځو د تحمیل شوو محدودیتونو د لرې

کولو لپاره کار کوه، له هغې ډلې يو هم د هغه قانون لغو کول و چې ښځو به د دندې په ترسره کولو کې بايد له پلار څخه اجازه اخيستې وی. (سرچينه: نن روسيې خبر پاڼه)

هغه يو شمېر محروميتونو چې سعودي ښځو په خپل ژوند کې تجربه کړي، اسلام ترې بېرازه دی. دغه ژوند چارواکو او هغو علماوو چې له کوم شرعي فقاهت پرته يې عجيبې فتواګانې ورکولې، ښځو ته راوړی دی. د سعودي چارواکي او درباري علما و پر ښځو ظلم وکړ؛ نه د هغوی دين. څرنګه کېدلی شي چې د هغوی د دين پيدا کوونکی، هغوی له هغه څه نه محروم کړي چې د پيدا کوونکي نافرماني يې پرې کېږي؟! نو هغه څه چې دردونکي دي، دا دي چې ښځې له ستونزو سره سره ويار کوي چې دغه لاسته راغلي برياوې د سيکولريزم دي او په اسلام نيوکې کوي او ترې ګيله منې دي په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی ښځو ته غوره احکام ورکړي چې د باغزته ژوند لرونکې وي.

خو نن چې د سعودي پادشاهان او درباري علما د ښځو د توانمند کولو تر سرليک لاندې شرموونکي عملونه تر سره کوي، شرم يې تر زرو کلونو د جبران وړ نه دی. ايا په دې لاسته راوړونو سره، ښځو خپل حقونه او شرافت لاسته راوړ او د ارامتيا، امنيت او خوښۍ احساس کوي؟! ايا په داسې لاسته راوړنو سره د ښځو اقتصادي وضعيت بدلون وکړ او پر خپل غريب ژوند برلاسي شول؟!

د معلوماتو له نه شتون سره سره، په نقل شو راپورونو او د الجزيرې شبکې په نقل، د «سعودي عربستان او د تور طلا په هېواد کې فقر او پارادوکس» د دولت ځينې کړنې لکه په ۲۰۱۴م کې ۲۹ ميليارده سعودي ريال چې ۷,۷ مېليون ډالره کېږي د دې هېواد له بوديجې څخه د فقر پر وړاندې پروژې ته ځانګړې کړل، خو اوس هم د خلکو په ژوند کې اساسي بدلون نه دی راغلی، فقر او بېکاري پر خپل ځای پاتې ده. په داسې حال کې چې د نفوسو د ثبت او احوال سازمان ټينګار کړی چې د ۲۰۱۷م درې ورستيو مياشتو کې سعودي عربستان کې ۱۲,۸ سلنه بېکاري زياته شوې ده.

ايا په سعودي کې به په دې لاسته راوړنو سره نور د طلاق قضيې پای ته ورسېږي؟! په داسې حال کې چې په سعودي کې د ورځې ۱۲۷ طلاقه، په منځنۍ توګه په ساعت کې ۵ طلاقه اخيستل کېږي او يا به د سعودي نجونو دايمې مجردي پای ته ورسېږي؟! په داسې حال کې د هغو نجونو شمېر چې د واده کولو زمينه ورته نه دی برابره شوې او د پلار په کورونو کې پاتې دي شمېر يې ۲۲۷,۸٦۰ ته رسېږي او زيات شمېر يې ۳۲ کاله عمر لري. (منبع: د ثبت احول نفوس عمومي سازمان)

ايا دا هغه څه دي چې سعودي نجونې يې هيله لري؛ موټر چلونه، د فوټبال په سياليو کې حضور او د دولتي مقامونو لاسته راوړنه؟! ايا د مسلمانو عربستانې ښځو او نورو اسلامي خاورو د ښځو غوښتنې همدا دي؟! مسلمانې ښځې به په دې شعارونو ونه غولېږي؛ ځکه چې هغوی په ناسم ډول دغو شعارونو ته مخه کړه او ښه پوهېږي چې د دې شعارونو تر شا هېڅ خير نشته، بلکې يوازې هغه څه چې د دوی له حقونو ملاتړ کوي او د خير پايله يې تضمينوي، د پروردګار د شرعيت حاکميت يې دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي، مَا أَكْرَمَ النِّسَاءَ إِلاَّ كَرِيمٌ، وَلاَ أَهَانَهُنَّ إِلاَّ لَئِيمٌ»

(رواه ترمزی)

***ژباړه:*** *په تاسو کې غوره کس هغه دی چې له کورنۍ سره يې کړه وړ ښه وي. زه له خپلې کورنۍ سره په تاسو کې غوره يم. ښځو ته هغه څوک احترام کوي چې خپله محترم وي، ښځې هغه څوک توهينوي چې خپله پست او ذليل وي.*

نو مسلمانې ښځو غوښتنې بايد د خپل پروردگار له شريعت پرته بل څه نه وي.

**ليکواله: زينت الصامت**

**۱۴۳۹هـ.ق د جمادي الاول ۷مه**

**۲۰۱۸م، د جنوري ۲۴مه**

**ژباړن: علي عمار**